Balkh International Journal of Social Science

ISSN – P 0000 -0000 E: 0000- 0000
Vol.1 NO.2 2025
URL: https://bjss.ba.edu.af/index.php/bjss

# د اوسنۍ ادبي لنډې کیسې د جوړښتي عناصرو تحلیلي څېړنه

# An Analytical Study of the Structural Elements of Contemporary literary short story

**AUTHORS:** Hameedullah Omarkhel[1], Mohammad Qasim Tasal[2]

1.Senior Teaching Assistant- Ph.D,Deparment of Pashto, Education Faculty, Balkh University, Mazar-e-Sharif, Afghanistan.

2. Assistant Professor ,Deparment of Pashto, Education Faculty, Balkh University, Mazar-e-Sharif, Afghanistan.
Corresponding Author Name: Hameedullah Omarkhel, Balkh University, Mazar-e-Sharif, Afghanistan.

**Received: 22/2/2026 Accepted: 7/6/2026 Published: 02/8/2026**

## ABSTRACT

Contemporary short stories and fiction represent a significant form of literary expression through which human experiences, social realities, and psychological conflicts are artistically conveyed. This article examines the structural elements of contemporary short stories, aiming to clarify how components such as plot, character, theme, setting, point of view, dialogue, style, and imagination contribute to the development and effectiveness of modern narratives. The study is conducted to address the need for a clearer understanding of how these elements function systematically in shaping meaningful and coherent literary works. Methodologically, the research employs a descriptive–analytical approach, drawing on both library-based sources and critical analysis of literary theories, including the perspectives of classical thinkers like Aristotle as well as contemporary scholars. The

[1]. Email: omarkhelhameedullah@gmail.com
Orcid iD:0009-0001-7273-8843
[2]. Email::qasimtasal9@gmail.com
Orcid iD:0009-0004-9826-9610

findings indicate that the success of a short story largely depends on the logical coherence, artistic balance, and purposeful integration of its structural elements. Furthermore, the study highlights that a well-constructed narrative not only reflects reality but also enhances the reader's intellectual and emotional engagement. In conclusion, this research contributes to literary studies by providing a structured and analytical framework for understanding modern short fiction, offering both theoretical insight and practical value for writers and scholars.

***Keywords***:Character, fiction, literary, Plot, Short Story

**لنډیز**

معاصرې لنډې کیسې او افسانې د ادبي بیان له مهمو بڼو څخه دي چې د انسان تجربې، ټولنیز واقعیتونه او رواني شخړې په هنري ډول انځوروي. دا مقاله د معاصرې لنډې کیسې د جوړښتي عناصرو څېړنه کوي او موخه یې دا ده چې وښيي لکه پلاټ، کرکټر، موضوع، فضا، د لید زاویه، مکالمه، سبک او تخیل څنګه د معاصر روایت په جوړښت او اغېزمنتیا کې ونډه لري. دا څېړنه د دې اړتیا د حل لپاره ترسره شوې چې د دغو عناصرو منظم او سیستماټیک رول په ادبي اثارو کې لا روښانه شي. د دې څېړنې میتود تشریحي–تحلیلي دی او پکې له کتابتوني سرچینو او ادبي نظریو له انتقادي تحلیل څخه ګټه اخیستل شوې ده، چې پکې د لرغونو مفکرینو لکه ارسطو او همدارنګه د معاصرو پوهانو نظریات شامل دي. موندنې ښيي چې د لنډې کیسې بریالیتوب تر ډېره د هغې د جوړښتي عناصرو په منطقي همغږۍ، هنري توازن او هدفمندې کارونې پورې تړلی دی. سربېره پر دې، څېړنه څرګندوي چې یو ښه جوړ شوی روایت نه یوازې واقعیت انعکاسوي، بلکې د لوستونکي فکري او عاطفي ښکېلتیا هم پیاوړې کوي. په پایله کې، دا څېړنه د معاصرې لنډې کیسې د درک لپاره یو منظم تحلیلي چوکاټ وړاندې کوي او د لیکوالانو او څېړونکو لپاره نظري او عملي ارزښت لري.

**کلیدي کلمې:** ادبي، پلاټ، داستان، کرکټر، لنډه کیسه

## ۱. سریزه

**اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِینَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلَامُ عَلی سَیدِالْمُرْسَلِینَ وَعَلَی اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِینَ.**

داستان او کیسه د ادبیاتو له پخوانیو او اغېزمنو ژانرونو څخه شمېرل کېږي. انسان د تاریخ له پیله هڅه کړې چې خپلې تجربې، وېرې، هیلې او ارزښتونه د کیسو له لارې راتلونکو نسلونو ته ولېږدوي. په معاصر پړاو کې کیسه یوازې د تفریح وسیله نه ده، بلکې د ټولنیزو، رواني او فلسفي پوښتنو د مطرح کولو یو مهم هنري فورم ګڼل کېږي. له همدې امله، د معاصرې کیسې د جوړښتي عناصرو څېړنه ځکه مهمه ده چې د ادبي متن د اغېزمنتیا، مانا جوړونې او هنري ارزښت بنسټ همدا عناصر جوړوي.

له علمي او تاریخي پلوه، د کیسې د عناصرو په اړه بحثونه د کلاسیکو مفکرینو له زمانې پیل شوي او تر نن پورې د معاصرو ادبي نظریه‌پوهانو له خوا پراخ شوي دي. په بېلابېلو ژبو کې د داستاني ادب د

جوړښت، ډولونو او عناصرو په اړه ګڼې څېړنې شوې دي (احمدي، ۱۳۹۳؛ اعظم، ۱۹۷۶؛ میر صادقي، ۱۳۹۴؛ یونسی، ۱۳۸۲)، خو دا بحثونه لا هم د نوو لیدلورو او تحلیلي چوکاټونو اړتیا لري.

د دې څېړنې د ستونزې بیان دا دی چې که څه هم په پښتو او نورو ژبو کې د کیسې پر عناصرو بېلابېلې لیکنې شوې دي، خو د دغو عناصرو ترمنځ د اړیکو، د هغوی د متقابل اغېز او د نورو ادبي فورمونو سره د توپیر په اړه لا هم یوه نسبي تشه موجوده ده. ډېری پخوانۍ څېړنې یا یوازې تشریحي بڼه لري او یا هم د عناصرو ژور تحلیلي تړاو نه دی پکې روښانه شوی.

د څېړنې اساسي موخه دا ده چې د معاصرې لنډې کیسې جوړښتي عناصر په علمي او تحلیلي ډول وڅېړي، د هغوی ترمنځ اړیکې روښانه کړي او دا وښيي چې څنګه د دغو عناصرو سمه او متوازنه کارونه کولای شي یو پیاوړی او اغېزمن داستان رامنځته کړي. همدارنګه، دا څېړنه هڅه کوي چې د تیوریک بحث تر څنګ د عملي لیکنې لپاره هم لارښوونې وړاندې کړي.

د دې څېړنې ارزښت او اړتیا په دې کې ده چې د پښتو داستاني ادب لپاره یو منظم تحلیلي چوکاټ برابروي، د کیسې د عناصرو د دقیق درک زمینه برابروي او د لیکوالانو، محصلینو او څېړونکو لپاره عملي او نظري ګټه لري. دا څېړنه د ادبي تیورۍ او عملي لیکنې ترمنځ واټن راکموي.

د څېړنې مهمې پوښتنې دا دي: د معاصرې لنډې کیسې بنسټیز عناصر کوم دي؟ دا عناصر څنګه له یو بل سره تړاو لري؟ او د دغو عناصرو سمه کارونه د کیسې پر کیفیت څه اغېز لري؟

له مېتودولوژیک پلوه، دا څېړنه کتابتوني ده او د تشریحي–تحلیلي مېتود څخه پکې ګټه اخیستل شوې ده، چې د بېلابېلو علمي اثارو او ادبي نظریو پر بنسټ تحلیل وړاندې کوي.

په پای کې، مقاله په څو برخو وېشل شوې ده: لومړی د داستاني ادب تیوریک بنسټونه څېړل شوي، وروسته د کیسې جوړښتي عناصر په تفصیل سره تشریح شوي، بیا د دغو عناصرو ترمنځ اړیکې تحلیل شوې او په وروستۍ برخه کې پایلې او وړاندیزونه وړاندې شوي دي.

## ۲. مواد او کړنلاره

د دې څېړنې ډول کتابتوني او مېتود تشریحي ـ تحلیلي او توصیفي دی، ځکه چې اړوند معلومات له معتبرو کتابونو، علمي مقالو او ادبي منابعو څخه راټول شوي او په علمي ډول تحلیل شوي دي. په دې مېتود کې د اوسنۍ کیسې جوړښتي عناصر د ادبي نظریو او نقدي لیدلورو پر بنسټ تشریح او ارزول شوي دي. د څېړنې موخه د داستان د جوړښتي عناصرو علمي پېژندنه او نظري تحلیل دی، نه د یوې ځانګړې عملي ستونزې حل او دا څېړنه کیفي بڼه لري، ځکه چې د داستاني عناصرو تحلیل د مفهومي، تفسیري او علمي ارزونې پر بنسټ ترسره شوی دی. په دې څېړنه کې د فزیکي کتابتون په شمول، له دیجتلي کتابخانې، انټرنیټي انلاین موادو او نورو تخنیکي او الیکټرونیکي وسایلو څخه کار اخیستل شوی دی.

### ۳. موندنې

### ۳. ۱ د لنډې کیسې لنډه پېژندنه

لنډه کیسه چې عربي قصه او فارسي کې یې داستان کوتاه بولي، د انګریزي د شارټ ستوري short story معادل کلمه ده. د کیسو موخه ظاهراً د اتل پیداکیدل، د کنجکاو فکر زېږول او لوستونکي یا اوریدونکي ته سرګرمي پیداکول او خوند اخیستل دي خو په حقیقت کې د کیسو څخه مقصد د فکري او ټولنیز اساس جوړول او د انساني اصولو، وروروليي، عدالت او برابري راوستل دي( میر صادقي، لومړی، ۱۳۹۴، م. ۴۴).

میر صادقي (۱۳۹۴) په خپل اثر ادبیات داستاني کې وایي: " د قیصې او لطیفې توپیر په دې کې دی چې قیصه د زمانې په اوږدو کې د شکل او معنا له مخې تغیر شوې او بېلابېل ډولونه یې رامنځ ته شوي او لطیفې بیا خپل ساختار ساتلی دی او یوازې د معنا له مخې به یې تغیر کړی وي"( م. ۷۹).

په دې اړه اجمل ښکلي د ډاکتر عباس نیر له ( لسانیات اور تنقید) اثر څخه ژباړه کړې، هغه وایي : د کیسې تیوري خپل یو چوکاټ لري او یوازې هغو پوښتنو ته ځواب وایي، چې د کیسې له ماهیت سره تړاو ولري؛ نو موږ باید له دې تیورۍ نه هغه غوښتنې و نه لرو، چې د کیسي په قلمرو کې نه راځي، ممکن دا خبرې له کیسي بهر ډېرې مهمې وي؛ خو په کیسه کې خپل کیسه توب مهم دی.

پخوانو په کیسه کې بهرنی ژوند، خلک، چاپېریال او پېښې کتلې او اوسني پکې په اصولو، قواعدو او رغښت پسې ګرځي. پخوانو په کیسه کې ټولنه او د ټولنې ستونزې کتلې او اوسني د کیسې اجزا او تخنیکونه ګوري. پخوانو کیسې ته د ژوند او ټولنې د هینداري په سترګه کتل، اوسني ورته د جوړښت /رغښت یعنې تخنیك په سترګه ګوري. د پخوانیو لیدلوری ټولنیز او رواني و او د اوسنیو علمي. په ټولنیز لیدلوري کې دا کتل کېږي، چې د کیسې منځپانګه، پیغامونه څه دي؟ د کیسې علمي مطالعې په کیسه کې راغلي ټولنیز مسایل حاشیې ته یووړل او دا په دې خاطر نه چې بېخې بې ارزښته وو، بلکې له دې امله چې د کیسې اړوند ټول موضوعات د کیسې د رغښت یا ګرامر زېږنده دي.(عباس، ژباړن: ښکلی، ۱۳۹۸ د حمل ۲۸، تاند وېبپاڼه).

د کیسې اوسنۍ تیوري د رغښتوالي پر پلونو روانه ده، معنا جوړښت ده؛ معنا بېله او خپلواکه نه ده، بلکې وجود یې په جوړښت او رغښت پورې تړلی دی(جوړښت بهرني چوکاټ او رغښت ژور باطني نظام ته وایي. په دې توګه، پیغام د روایت له امله موجود دی او په نقل کې دننه دی. یعنې په یوه کیسه کې چې کومه موضوع یا پیغام وي، هغه خپلواك او د کیسې له متن بهر نه وي موجود. د موضوع اهمیت، بې اهمیتي او نور اړوند مسایل د ایډیالوژۍ اړوند دي، چې له کیسې بهر دي او پر خپل ځای مهم دي.

**۲.۳ د لنډې کیسې پیژندنه**

لنډه کیسه د شکل او معنا له مخې د انگلیسي له ناول او نورو کیسو سره توپیره لري. لنډه کیسه د پیرنگ یا پلاټ او حقیت ته ورته وي او په یو ډول نه یو ډول د فردي روان شناختي لرونکې وي.

د لنډې کیسې تعریف کې لولو، چې په لنډه کیسه کې یوه مرکزي پېښه یا مهمه ضمني پیښه راوړل کیږي، چې له نورو پېښو او کړنو د همدې پېښې په دوام او تکمیل کې کار اخیستل کیږي. مثال میړه خپله ښځه وژني چې دا مرکزي پیښه ده او دا نورې چې دا پېښه تکمیلوي هغه د لیکوال برداشت او د وړاندې کولو طرقې پورې اړه لري چې په دې کیسه کې څه غواړي او موخه یې څه ده. اوس هر لیکوال کولای شي چې دا پیښه د خپل دید او فکر له مخې تجزیه او تحلیل کړي.

ادگار آلن پوه وایي: چې په لنډه کیسه کې باید لیکوال کوښښ وکړي، چې لوستونکی تر واحد اغېز لاندې راولي او نور اثرات د همدې واحد اغېز تابع وي. لوستونکی وکولای شي په یو ناسته کې چې له درې ساعت ډېر وخت ونه نیسي دا کیسه ولولي.

میر صادقي( لومړی، ۱۳۹۴) د واحد اثر په اړه وايي: " (( حال او هوا، شور او سودا، وضعیت او موقعیت او لحن)) حدود ټاکل هم اسانه خبره نه ده، ځینې لنډې کیسې چې خپل دا ډول واحد اغېز یې له لاسه ورکړی هم شته لکه د چخوف یا کافکا لنډې کیسې چې دلته بیا هم د لنډې کیسې لپاره دا تعریف خپل جامع والی له لاسه ورکوي"( م. ۲۸۸).

فرانسوي لیکوال گامي ډي موپاسان(Maupassant) لنډو کیسو ته ریالیزم دننه کړ. په همدې وخت کې په روسیه کې چیخوف وزېږېد او لیکوالان په دې متفق دي چې په لنډه کیسې کې د موپاسان او چیخوف غوندې لیکوالان پیدا نشول. د چیخوف لنډو کیسو اکثره موضوعات د عامو روسانو اړوند موضوعات دي او د ده شخصیت هم پکې ځلیږي( نسیم، شاهین، ۲۰۰۷، م. ۲۵۵).

شینواری(۲۰۱۴) کیسه او لنډه کیسه جدا کوي: "کیسه چې داستان یې هم بولي، د فورم، د ژوند د اړخونو او د پېښو د شمول په لحاظ د رومان او لنډې کیسې ترمینځه مقام نیسي، کیسه د رومان په نسبت د حجم، زماني واټن او د پېښو د شمول په لحاظ د رومان سره توپیر لري. داستان له لنډې کیسې په تفصیل، زیاتو پېښو، د کرکټرونو په زیات شمېر سره توپیر لري، په لنډه کیسه کې دا شیان د داستان په نسبت محدود وي"( م. ۱۷٦).

خلیل( ۲۰۱۱) کې د (اصناف ادب) لیکوال رفیع الدین هاشمي له قوله لیکي، چې: "لنډه کیسه د کیسې هغه شکل دی، چې په انگریزي کې ورته ( short story ) استعمالوي او دا د ناول او داستان پرمختللی او ارتقایي شکل دی او جامع تعریف یې اسانه ځکه نه دی چې زښته زیات تعریفونه یې شوي دي"( م. ۱۷۳).

په لنډه کیسه کې د کلمو او ژبې کارول هم باید په احتیاط وشي. مثال که د یوې فقرې نه یو ټکی لرې کړې نو فقره ورانیږي او که یوه له پاراگرافه یوه فقره یا جمله لرې کړې نو ټوله اډانه ورانیږي. د لنډې کیسې میدان یا ځمکه محدوده ده؛ نو د بیان انداز باید داسې وي چې له اختصار سره مطابقت ولري. په لنډه کیسه کې د الفاظو اهمیت د شعر د الفاظو غوندې ډېر اهمیت لري. له هرې کلمې څخه کار

اخیستل پکار دي او حتا کله خو په یوه کلمه کیسه ولاړه وي، چې که دا کلمه لرې شي نو کیسه کیسه نه پاتې کیږي. په کیسه کې  بیان انداز په بېلو بېلو طریقو سره کیږي کله د راوي له خولې د روایت په شکل کې وي او کله د کردارونو د مکالمې په شکل کې وي او کله هم کیسه لیکوال خپله د کیسې برخه ګرځي، کله کردار په کیسه له بل څېز ګل یا بل شي سره خبرې کوي. (نسیم او شاهین، ۲۰۰۷، م. ۲٦٦)

د لنډې کیسې له مهمو عناصرو یو هم د کیسې تخلیقي ژبه ده، کله چې مونږ تخلیقي ژبې یادوو؛ نو په دې ځای کې باید روښانه کړو چې مونږ له کیسه لیکوال د کومې نوې یا اسماني ژبې تمه نه لرو بلکې له تخلیقي ژبې مقصد د کیسې د پلاټ او کرکټرونو پورې اړوند مناسبه کیسه بیزه ژبه ده. لکه په (نورخلک) چې د اجمل پسرلي د کیسو ټولګه ده، یکې یوه همدا خوبي شته، چې د کیسې ژبه یې د کیسې د پلاټ کردارونو او حتی د ننداریې سره بیخي جوړښت خوري. په دغه کتاب کې زیاتره کیسې چون د یوې با سوادې ټولنې انځور وړاندې کوي نوځکه هم د ژبې بې ځایه طوالت نه ده شوې او د ضرورت وړ ډایلوګونو څخه استفاده شوې ده. د اجمل پسرلي د کیسې په سبکي ځانګړتیاو کې دا هم د شمیرلو وړ ده، چې د پېښو پرځای ډېره پاملرنه مشاهدې او کیفیتونو ته شوې ده.

په ریالیستیک کار کې له مشاهدې او کیفیتي شیبو استفاده د تخلیقي کار رنګ او خوند زیاتوي او له شعارې او بربنډې لهجې د ښایسته کولو او هنري کولو سره مرسته کوي.

د لنډې کیسې د موضوع حدود مشخص نه دي، ډرامه یې پېښه، یو ښکلی منظر، د پېښو له یو بل سره تړلې سلسله، د شخصیت یو اړخ، د تجربې یو مخ او د ژوند یوه ټوټه د کیسې موضوعات جوړوي.

د لنډې کیسې محتوا او موضوع په کیسه کې ډیره مهمه ده چې لوستونکو ته څه وړاندې شوي دي؟ ایا هغه په لوستو ارزي؟ ایا هغه د لوستونکو لپاره مهم دي؟ په تیرو لسیزو کې تر یوه بریده په لنډه کیسه باندې د ایډیالزم اغیز خپور وو او ځینو کیسه لیکوالو به په کیسو کې خپلو لوستونکو ته هغه څه وړاندې کول چې دوی به غوښتل چې باید لوستونکی یې ولولي او د دوی خواخوږي شي؛ خو زمو کیسې باید خلکو ته ورزده کړي، چې خلک څنګه د خپل ژوند د خوښی لپاره له وړو وړو فرصتونو ګټه واخلي.

پخوانی لنډې کیسې پر پېښې راڅرخیدې او اوسنی پر شخصیت راڅرخي. شخصیتي کیسې یا د کرکټر کیسې چخوف رامنځ ته کړې دي او یکې استاد تیر شوی دی.

د لنډې کیسې  شکل او محتوا په اړه شمیسا( ۱۳۸۷) کې وایي: "لنډه کیسه لنډه وي خو لنډوالی یې مشخص حد نه لري. ممکن ۵۰۰ کلمې وي چې ورته لنډه کی کیسه یا  Short Short story  وایي او ممکن اوږده وي چې ورته ناولټ  Novelette وایي. ځینې ورته لنډ ناول هم وایي" (م. ۱۸۹).

لنډه کیسه په امریکا کې ډېره رواج وه چې لیکوال فرانک اوکنر  Frank Oconnor لنډه کیسې د امریکا ملي هنر ونوماوه. اوسني اکثره لنډې کیسې په ورځنیو موضوعاتو لیکل کیږي چې دا موضوعات په ورځپاڼو کې هم راخیستل کیږي.

د ((هنر داستاني نویسي)) لیکوال ابراهیم یونسی د لنډې کیسې ځانګړنې په لاندې ډول راپیژندلي دي

- منظمه او مشخصه طرحه ولري.
- یو اصلي کرکټر لري.

- پېښه وي چې اصلي کرکټر پکې وړاندې کيږي.
- ټولې برخې يوه له بلې سره متقابلې اړيکې ولري.
- يو اغېز وښندي
- لنډه وي.

پورته ځانګړنو ته په کتو سره داسې تعريف هم وړاندې کيداى شي چې: لنډه کيسه هغه نثري ژانر يا ډول دى چې په هغه کې ليکوال د يوې منظمې طرحې په مرسته يو اصلي کرکټر په يوې اصلي پېښه کې څرګندوي او پر ټولو يو ډول اغېز ښندي(يونسي،۱۳۸۲، مخ. ۱۰-۱۴)

معاصرې لنډې کيسې د خپل لنډ جوړښت او متمرکز روايي څواک له امله ځانګړې دي، چې پکې هر عنصر بايد په دقيق او هدفمند ډول خپل رول ترسره کړي. پلاټ د کيسې د ملا تير حيثيت لري او بايد په منظم ډول تنظيم شي تر څو د اثر يووالى تضمين کړي، پر دې اصل په کلاسيکو ادبي نظريو کې هم ډېر ټينګار شوى دى. ارسطو استدلال کوي چې يوه ښه جوړه شوې کيسه بايد روښانه پيل، منځ او پاى ولري، څو يو منسجم حالت جوړ کړي چې لوستونکى په فکري او عاطفي توګه راجذب کړي. (Aristotle, trans. 1996).

د اردو ژبې پياوړى ليکوال او ادب څېړونکى ډاکټر سلام سنديلوي په خپل اثر( ادب کا تنقيدي مطالعه)کې د (افسانه کی خصوصيات) تر سرليک لاندې د لنډې کيسې عامې ځانګړنې داسې راپيژني:

۱- لنډون: مطلب د بې ځايه اوږدولو اړتيا نشته؛ خو د دې مطلب دا هم نه دى چې يوازې يوه پېښه دې پکې په لنډه ډول عکاسي شوې وي، بلکې نورې پېښې هم راتلاى شي چې د ژوند بېلابېلو اړخونو عکاسي شوې وي؛ خو ضمني بې ضرورته پېښې پکې نه راوړل کيږي.

۲- ربط: پېښې بايد په منطقي ارتباط کې وړاندې شي. پېښو کې ګډوډې نه وي، مخکې نه بايد په پلاټ او د کيسې په طرحه کې د پېښو پر منطقي تړاو ښه غور او دقت وشي.

۳- د وخت، ځاى او کړنې يووالى( درې وحدتونه): د وخت يووالي څخه مطلب دا چې د کيسې پېښې له وخت سره سمون ولري، پېښه بايد په يوه ځانګړي وخت او موسم کې راڅرګنده شي. د ځاى يووالي هم همدارنګه چې يوه پېښه په يو وخت او يو ځاى کې ليدل کيداى شي، نه بېلابېلو ځاينو کې. د کړنې يووالى هم اړين دى. يو کردار په يوه وخت کې هم ايمانداره او هم منافق او يا هم ظالم او هم زړه سوانده نشي کيداى. که تغيير هم کوي د پېښو څخه په اغېزمنتيا سره به په تدريجي ډول تغير کوي؛ نو په يو وخت کې يو کرکټرمتضادې کړنې ترسره نه کړي( سنديلوي،۱۹۸۹، م. ۱۶۳-۱۶۵)

په معاصرې لنډې کيسه کې د کرکټر جوړونه ډېر مهم رول لري، ځکه چې دا د رواني ژورتيا او ټولنيزو واقعيتونو انعکاس کوي. د دوديزو روايتونو برعکس چې ښايي په اوږدو تشريحاتو تکيه وکړي، معاصرې کيسې اکثره کرکټرونه د عمل، مکالمې او داخلي شخړو له لارې څرګندوي. لکه څنګه چې فورستر يادونه کوي، کرکټر هغه وخت "ګرد" بلل کېږي چې وکولاى شي لوستونکى په قانع کوونکي ډول حيران کړي، او دا کار د روايت واقعيتوب او پېچلتيا زياتوي(Forster, 1927).

پر دې سربیره بله مهمه ځانګړنه په کیسه کې نوښت دی، ځکه چې کیسې ته خوند، کیف او خوږوالی وربښي او کیسه په زړه پورې کوي هغه نوښت دی؛ خو دا ځانګړنه بیا عامه د ټولو داستاني ادبیاتو لپاره اړینه ده، که پېښه یا موضوع زړه هم وي؛ خو لیکوال سره دا مهارت وي چې په نوي او زړه پورې انداز کې وړاندې کړي چې لوستونکي او لیدونکي ته نوې ښکاره شي.

موضوع او فضا په لنډه کیسه کې یو له بل سره په ګډه کار کوي څو د روایت تر ظاهري سطحې هاخوا ژوره معنا رامنځته کړي. چاپېریال نه یوازې کیسه په یوه ځانګړي وخت او ځای کې ځای پر ځای کوي، بلکې د اثر موضوعي پیغام هم پیاوړی کوي. د اېډګر الن پو له نظره، د لنډې کیسې هر عنصر باید د یوې واحدې عاطفي اغېزې په رامنځته کولو کې ونډه ولري، تر څو موضوع د فضا، اهنګ او انځورګرۍ له لارې په دوامداره توګه ملاتړ شي( Poe, 2004).

محمد اعظم اعظم په خپل کتاب ( پښتو افسانه تحقیق او تنقید) کې د ستیونسن له قوله لیکي: یوه واقعه راوخلئ او کردارونه پکې وربرابر کړئ. یو کردار خوښ کړئ او د هغې لپاره د واقعاتو ماحول انتخاب کړئ. یوه فضا یا یو محیط وګورئ او د هغې د محسوس کولو او تاثر راجوتولو لپاره واقعات او کردارونه غوره کړئ. (اعظم، ۱۹۷۶، مخ. ۸۶).

**۳. ۳ د لنډې کیسې ژبه**

د کیسې ژبه باید ساده وي، پیچلي کلمات پکې نه وي. د ساده والي سره سره باید د لیکوالی هنر هم پکې وي. د هنري اثر یوه ځانګړنه دا ده چې ژبه یې باید ساده وي. په لنډو فاصلو کې باید یو رنګه توري او فعلونه ونه کارول شي، لکه: قلم یې راوخیست، کاغز یې راواخیست. دلته د دویم راواخیست پر ځای کولای شو، چې (کاغز ته یې لاس کړ) ولیکو.

ډیالوګونه باید د کرکټر له موقف سره برابر او منطقي، یو بزګر ته د پوهنتون د یو پرفیسور ژبه کارول منطقي نه ښکاري. په مکالمو کې باید له تکراري تورو ډډه وشي. لکه:

*احمد: په کور کې څه خبرې وې؟*

*محمود: په کور کې کراره کراري وه.*

دلته دویمه جمله د لومړۍ هغې تکرار ده، باید ولیکل شي، چې : (کراره کراري وه).

په ډیالوګونو کې باید د هرې سیمې خلک په خپله لهجه وغږېږي، ځکه دا کار کیسه کې خوند پیدا کوي او ډیالوګونه باید لنډ وي.

احمدي (۱۳۹۳) کې د کیسې د انځوریزې ژبې په اړه لیکلي:" په جملو کې دومره زور وي، چې د لوستونکي په ذهن کې حرکت پیدا کړي. هر څه ژوندي شي او د سترګو مخې ته یې ودروي. په لیکنه کې باید خام او بې رنګه تصویرونه نه وي، ځکه چې لوستونکی یې نه ویني، چې ویې نه ویني؛ نو لیکنه نه لولي. تصویرونه باید ژوندي وي، لکه:

*( د ساعت زنګ وشرنګېد، سړي سترګې رنې کړې، وښورېد، د کټ له سپرنګونو غنچا پورته شوه. سړی کېناست، کړپ شو. د کړګۍ پله له دیوال سره ولګېده، باد په خړه پرده کې راتاو شو. سړي د میز له سره جګ وریپورته کړ، ګیلاس له رنو اوبو ډک شو....)"( م. ۵۵).*

که څه هم ډېر ځله په کیسه کې لهجه يي کلمې د کیسې ژبه تصویري کوي او يو بېل خوند ورکوي، لکه ځینې معاصرې معیاري کیسې او ناولونه شاید خلك په دې خوښ کړي، چې ژبه يې عامیانه ده. د هرې سیمې او لهجې کلمې یې پکې کارول شوي دي؛ خو که په لهجه يي کلمو کې ډېر افراط وشي، ښايي پر لیکوال او د همغې سیمې خلکو پورې محدوده شي او هغوی پرې وپوهېږي. کیسه به جالبه وي، موضوع به نوې وي، ژبه به يې تصویري وي، تلوسه به لري؛ خو محدود کسان به پرې پوهېږي او خوند به ترې اخلي. د پښتو یوه ربړه د لهجو ډېروالی دی، حتا په ډېرو لنډو سیمو کې لهجه بدلېږي؛ نو پکار ده چې لیکوال د کیسې په ژبه ډېر غور وکړي. داسې کلمې انتخاب کړي چې اسانه او عامفهمه وي. که لهجه يي کلمې لیکي، باید په قوس کې يې په معیاري بڼه هم ولیکي.

د کیسې د ژبې یوه ځانګړنه دا ده چې بایده حسي او انځوریزه وي، حسي کلمې د کیسې ژبه خوندوره او انځوریزه کوي. د کیسې ژبه د نورو ادبي یا هنري لیکنو په څېر پارونکې وي، جملې او پارګرافونه باید لنډ لنډ او رانه وي. هڅه باید وشي چې د کیسې اتل یا اتلې خپله ژبه ولیکئ. د کیسې له ژبې د کیسې کرکټر څرګندېږي.

یوه موضوع باید د چا سترګو ته ودروو. ژبه يې باید روانه، سلیسه او ښکلې وي چې لوستوکی ترې خوند واخلي او تر پایه يې په خوند خوند ولولي. د کیسې ژبه باید کیسه ییزه او انځوریزه وي، نه اخباري.

د کیسې پلاټ ته توجه پکار دی. منلی(۱۳۹۹) کې په ادبیاتو دنیا اثر کې وايي، چې: " پلاټ کې د پېښو ترمنځ تسلسل چې له یوه حالت نه بل حالت ته يې باید ایجاد کړي، ضروري دی. پلاټ له یوه حالته بل ته تګ دی. د پلاټ د بریالتوب وسیله بیا تلوسه ده"(م. ۲۷۹).

د اوسنۍ کیسې یوه ستونزه دا ده چې پر منظره کشۍ یا د حرکت په تیوري له حده زیات تمرکز کېږي چې ته به وايې یوازې د صحنې کښنې په موخه لیکل شوې، د متعالی الافعال صنعت په کې دومره زیات وي چې ته فکر کوې د منظره کشۍ، تصویرونو او رنګارنګ افعالو د پېژندنې په اړه د ژبپوهنې کومه مقاله لولې، دا توکي په کیسه کې دومره زیات شي چې بیخي په اصلي پیغام او د کیسې پر موخه يې سیوری غوړولی وي. د کیسې دا ډول جوړښت که د کیسې پلاټ روښانوي، خو له کیسې وچ کلك پلاټ هم جوړوي او نور داستاني توکي ورڅخه تراشي.

د داستاني طرحې یا پلاټ په مهمو ځانګړنو کې یوه د کرکټر څېره ده چې باید را څرګنده شي، لوستونکی يې داسې وپېژني لکه د خپل کلي-کور یا کاري ماحول له یوه همکار سره چې بلد وي، تر منځ يې د نا اشنایي حس شتون ونه لري.

اخلاقي معیارونو ته هم پام کول پکار دي اخلاقي معیارونه هم فرق کوي، مطلق اخلاقي معیارونه نشته چې د هغو په اساس دې ښه او بد شخصیتونه وټاکل شي، بشپړ او بې عیبه شخصیت به اوس ډېر کم

حتا چې بېخي پيدا نشي. داسې حالتو کې بايد ليکوال له قضاوت څخه ډډه وکړي او د ښه او بد پرېکړه لوستونکو ته پرېږدي، ځکه هر څومره چې داستان عيني او بې طرفانه وي، هغومره پر لوستونکي تاثير کوي.

د تعليق حالت هم ضروري دی او دا بيا په دوه ډوله تر سره کيږي: لومړی دا چې ليکوال د شخصيت او شخصيتونو لپاره وضعيت او موقعيت سخت او نارينه يا ښځينه په سختو ستونزو کې راګير کړي، په داسې شکل چې په دوه لارو کې ګير وي. يوه بايد انتخاب کړي او د لوستونکی توجه هم د دې دوو لارو انتخاب ته راجلبوي، نړيوال شهکارونه همداسې حالت لري.

بحران حالت ته هم توجه پکار ده، دا هغه ټکی دی چې مقابل طرفونه د اخر ځل لپاره مبارزه کوي او داستان د اوج ټکي خواته ځي او د داستان د شخصيتونو د ژوند بدلون سبب کيږي.

د اوج ټکي بيا په لنډه کيسه کې او ناول يا نورو کيسه ييزو ډولونو کې هغه حالت دی چې بحران خپل اخري حالت ته رسيږي او نور غوټې خلاصيږي او د تيرو پېښو منطقي پايله تر لاسه کيږي.

غوټه خلاصيدنه يا ګره ګشايي هم مهم دي چې د پيچلي موقعيت او وضعيت او يا د نهايي پايلې تر لاسه کول دي، رازونه او معماوې له منيځه ځي او څه انتظار چې و نور پای ته رسيږي او د شخصيتونو يا شخصيت سرنوشت تعينيږي.

حقيقت بايد د ناول او لنډې کيسې په کيسو کې موجود وي او لوستونکي پرې د واقعيت باور وکړي. که خپله واقعيت نه وي؛ خو داسې څه وي چې پېښېدل يې امکان ولري يا حقيت ته ورته وي که خيال او وهم هم ولري خو پېښېدل يې له امکانه لرې نه وي او دا چې څومره واقعيت يا واقعيت ته نژدې وي، درجه يې نه ده ټاکل شوې.

سمون(۱۳۹۷)کې د چيټ وټيو نظر راخيستی هغه وايي: "په يوه داستان کې يوه بې اړيکه پېښه رواړل د ليکوال بې مهارتوب ښيي"(م.۲۲).

شخصيت يا کرکټر ته هم د کيسې له مهمو عناصرو څخه دی هغه جوړشوي مخلوق چې په کيسه، ننداريک يا فلم کې راښکاره کيږي، شخصيت هميشه انسان نه وي، ممکن حيوان، شی، طبيعت او يا نور څيزونه وي. شخصست د کيسې لوبغاړی دی د دې لوبغاړو رواني او اخلاقي حالت يې په اعمالو کې موجود وي او د دغه اعمال د واقعي خلکو په شکل وړاندې کيږي چې دې ته شخصيت پردازي وايي، شخصيت ممکن رسم و رواج، فردي خوی، طبيعي او ټولنيز مبارزين هم وي. ای. ام. فورستر شخصيتونه په ساده او جامع باندې ويشي. ساده شخصيت يو بعدي دي او ځانګړی خوی او ځانګړنې لري او جامع هغه بيا څو اړخيزه دی او عام تام ښه او بد خويونه انځوروي.

اسدالله غضنفر هم په دې عقيده دی، چې کرکټر د رامنځته کولو، ښودلو او انکشاف طريقو ته وايي په خبره کې مرکزي خبره يا خبرې ته اتل او اتله وايي. کيسه ليکوال بويه خبره او اتل داسې ولوبوي چې لوستونکی ترخپلې اغېزې لاندې راوړي؛ ځکه خبرې، اتل او اتلې ته وده او مثبت رول ورکوي، خورا ډېرې لارې چارې لري چې هوښيار او تجروبه لرونکی لنډه کيسه ليکوال يې په اسانۍ سره تر سره کولای شي.

انځور شوی کس چې په ناول، رمان، لنډه کیسه او یا نمایشنامه کې ښکاره کېږي، کرکټر بلل کېږي. په روایتي یا نمایشي اثر کې هغه کس ته وایي چې د هغه رواني او اخلاقي کیفیت د هغه په اعمالو کې موجود وي.

په لنډه کیسه کرکټر وړاندې کولو کې دومره توجه نه وي پکار؛ خو په ناولونو کې باید توجه وشي. په ناولونو کې شخصیتونه دي چې ناولونه یې کامیابۍ ته رسولي دي

مضمون یا درونمایه چې په داوړو هم په لنډه کیسه او هم په ناول کې موجود وي. د ادبي اثر اصلي جوهر دی او پر داستان حاکم او مرکزي فکر رانغاړي، مثال: لکه تریخ واقعیت سره مخامخ کیدل سړی متزلزله او ګډوډوي، یا د خپل ملګري له لاسه ورکول سړی پړمړخې غورځوي. مضمون د داستان ټول عناصر ټاکي، چې دا عناصر عبارت دي له: موضوع، شخصیت، عمل، پیرنګ او نور...

صحنه بیا هغه وخت او ځای ته وایي چې پکې د داستان عمل تر سره کیږي. د صحنې سمه کارونه د داستان اعتبار او حقیقت زیاتوي او د داستان د پېښې ځای درست ټاکل د پېښو منلو کې مرسته کوي.

د دید زوایه جې د روایت زاویه هم ورته وایي په کیسه کې مهمه ده، ځکه چې په مرسته یې لیکوال د داستان مواد او موضوع مطرح او لوستونکي ته وړاندې کوي. انګلیسي لیکوال شیبلي د دید زاویه په دوه ډوله ویشي ۱) د داخلي لید زاویه : چې د کیسې راوي خپله اصلي یا فرعي شخصیت وي او د دوی له د لید زاوې څخه کیسه کوي. ۲) بهرني لید زاویه: چې په دې کې لیکوال د شخصیتونو روحي، فکري او اخلاقي کړنې تشریح کوي او د دوی له تېر ژوند څخه خبر وي.

د لیدلوري او تخیل رول د دې لپاره اساسي دی چې کیسه څنګه وړاندې کېږي او لوستونکي یې څنګه درک کوي. روایي لیدلوری د معلوماتو د وړاندې کولو لوری ټاکي، په داسې حال کې چې سبک د لیکوال ځانګړی غږ او هنري انتخابونه څرګندوي. معاصر پوهان ټینګار کوي چې تخیل عادي تجربې په معنا لرونکو ادبي څرګندونو بدلوي، چې دا کار کیسې ته دا توان ورکوي څو له لوستونکو سره ژوره اړیکه ټینګه کړي او د انساني تجربو په اړه د هغوی پوهه پراخه کړي (Abrams & Harpham, 2015).

خبرې اترې یا ډیالوګونه د کیسې جوړښتي عناصرو څخه بل مهم عنصر دی، جې د فکرونو او عقایدو تبادلې ته وایي، هغه خبرې چې د شخصیتونو ترمنځ ترسره کیږي. د پوره ډیالوګ ځانګړنه دا ده چې جسمي، رواني او ټولنیزې ځانګړنې پکې ښکاره شي.

مکالمه په کیسه کې یو تمثیلي حرکت دی چې کیسې ته روح ورکوي او لوستونکی بوخت او خوشاله ساتي. په کیسه کې مکالمه یا ډیالوګ د کرکټر سویه (اقتصادي، رواني، روحي، جنسي، غوسې حالت، خوښۍ حالت، ښوونیزه سویه، استعداد، موقف، دنده او کسب ) راښیي او ځانګړنې یې څرګندوي. د مکالمې ښکلا په دې کې ده، چې کلمې، ترکیبونه او نحوي جوړښتونه یې راڼه او لنډ لنډ وي. د کیسې موضوع باید ورکه نه کړي.

ژبه یې باید له مفوهم او مانا ډکه وي. طبعي او ساده مکالمې د کیسې موضوع او تلوسه لا زیاتوي.

په لنډه کیسه کې مکالمې لږې او په ناول کې د پېښو له ډېرښته زیاتې راځي. دا چې هر کردار په یو منظر کې اوسي او هره پېښه خامخا په یو منظر کې پېښېږي او څرنګه چې لنډه کیسه معمولا یوه پېښه وي او د کردار د ژوندیو یو اړخ پکې ښودل کېږي؛ نو ځکه پکې منظر کښنې ته ډېره اړتیا نه لیدل کېږي. د مکالمو په هکله دا هم ضروري ده، چې هغه باید له حال او مهال سره سمې وي، یعنې د خوښۍ په وخت کې د خوښۍ په الفاظو او لهجه خبرې مکالمه او د غم یا خواشینۍ په وخت کې دې لهجه او الفاظو هم غمناك او خواشیني کوونکي وي. څومره چې په کیسه کې دغه برخه قوي، ځواکمنه او طبعي وي هومره ښه ګڼل کېږي او دا چې د مکالمو په څېر منظر کښنه هم کیسه مخکې بیایي، کردارونو ته ښکلا وربښي او د اړوندو پېښو طبعي والی په ګوته کوي؛ نو لیکوال باید په منظر کښنه کې له پوره غور او دقت څخه کار واخلي. هسې نه داسې منظر وړاندې کړي چې غیر طبعي او له واقعته لرې وي.

د یوې ادبي لیکنې یوه مهمه ځانګړنه  یا اصل تخیلي حرکت یا خیال پردازي ده، کیسه چې یو ادبي اثر دی، نو له تخیله یې بیلولی نه شو. لوستونکی  د تخیل له لارې د لیکوال د لیکنې شخصي تجربو ته ورګډېږي او په هغه کې خپل عواطف او احساسات خړوبوي. ((...لیکوال د تخیل په زور پېښې داسې انځور وي چې هر لوستونکی یا اوریدونکی داسې ګومان کوي چې ګواکې نوموړې دغه پېښه په خپلو سترګو له نږدې څخه لیدلې ده او په واقعیت کېدو کې هیڅ شک هم نه کوي، انځور کیسه هم حقیقت ته ورنږدې کوي او کیسې ته فطري بڼه ورکوي، راوي له مداخلې څخه ژغوري او حلات په ښه بڼه معرفي کوي، خو په دې شرط چې تصویر نه هغومره زیات وي چې اصلي موضوع تر سیوري لاندې راولي او نه دومره کم وي چې په سترګو ونه لیدل شي.

همدغه پېښه ده، ټکر ایجادوي خو باید پوښو چې کومې پیښې او ستونزې کولای شي چې یو ټکر رامنځ ته کړي او کرکټر فکر کولوته اړ کړي؟

هغه ډراماتیک موقیفونه دي چې ټکر رامنځ ته کوي، د مثال په ډول که یوه ټولګی کې ناست ووسو او استاد راشي، نو دغه پیښه ځکه ټکر او کشمکش نشي زیږولی  چې دا یوه عادي پېښه ده او تل داسې پېښېږي، خو که د استاد په ځای یو انتحاري په منډه او ساه نیولی را ننوځي، نو دغه پېښه یو ډراماتیک موقف دی ټکر او فکر زېږوي.

بریالۍ لنډه کیسه لیکوال هغه دی چې په تخیل کې احساس او عاطفه داسې انځور کړي چې انساني ذهنیت ته یو خاص خوند ورکړي او د زړه راښکون لامل یې شي.

په تخیل کې باید داسې مبالغې چې عقل او مدعایې نه مني رانشي، لکه د بیلګې په ډول ما یو داسې سړی ولید چې شل متره یې ونه وه او په یو پړق کې له میرویس میدان تر څرخي پله پورې لاړ او یا هم لکه پخوانۍ فولکوري کیسې چې انسانانو به له دیوانو سره غېږې نیولې او په پایله کې به دیو چپه شو او داسې نور...))( ازمون، ۱۳۹۸، م. ۲۰۹).

پلاټ له طرحې سره فرق لري ایرانیان پلاټ ته پیرنګ وايي؛ خو طرحې ته په انګریزي کې sketch وايي او ډیزاین هم فرق لري. ایرانیان ورته هسته او چهارچوب هم وايي، چې سم نه دي، ځکه چې په پلاټ کې یوازې شکلي برخه نه جوړیږي، بلکې شکلي او محتوایي دواړه وي.

شمیسا( ۱۳۸۷) کې د داستان یا کیسې عناصر په لاندې ډول وړاندې کړي دي:

هغه عناصر چې داستان رامنځ ته کوي په لاندې ډول دي:

۱- تجربه Experience : هغه اعمال چې په داستان کې ترسره کیږي د تجربې حاصل دي.

۲- جدال Conflict: د دوو مخالفو لوري ترمنځ جنګ یا کشمکش دی. مخالف لوری ممکن دوه انسانان، دوه سرنوشته، خدای، طبعیت او یا انسان خپل ځان او نفس سره چې رواني داستان هم ورته وايي وي.

۳- حادثه Event: پېښه یا واقعه هغه ده چې له جدال څخه پیداکیږي، د پېښې ولې او انګیزې ته ځواب ورکولو لپاره خبره بېرته جدال ته ورګرځي. یوه پېښه ممکن ټول داستان راونغاړي.

۴- روایت Story: د پېښو مرتب او منظموالی دی، د تسلسل بیان دی، څه وشول؟ څه به کیږي؟ چې دا لوستونکي ځانته جلبوي، د داستان د جاذبې سبب کیږي.

۵- د داستان راوي یا د لید زاویه: Point of view : معموله طریقه دا ده چې لومړی کس( زه) او دریم کس(هغه) څخه استفاده کیږي. فضول راویي چې په انګریزي کې ورته Intrusive narrator وايي او په ټول داستان کې ازاد لاس لري یا رفت و امد لري او د قهرمانانو اعمال هم ارزوي، لکه د تولستوی جنګ او سوله چې دا ډول راوي ټولپوه Omniscient هم بلل کیږي. همدا ټولپوه ممکن له غیر شخصي تګلارې کار واخلي یعني یوازې ګذارش ورکړي او قضاوت ونکړي. بل روای هغه دی چې لیکوال د دریم شخص په توګه روایت کوي، ټولو کرکټرونو سره کار نلري یوازې څو شخصیتونو سره کار لري.

٦- د داسته هسته طرحه یا پلاټ Plot : په پښتو کې ورته اډانه لفظ کارول کیږي چې د داستان دروني یا داخلي، فکري او ذهني جوړښت دی. د پېښو منظم منطقي تسلسل دی.

۷- شخصیت یا کرکټر Character : هغه کسان چې داستان رامنځ ته کوي، اعمال ترسره کوي چې عمل ته په انګریزي کې Action وايي. د کرکټر خبرو اترو ته ډیالوګ Dialog وايي چې د داستان د اعمالو او ډیالوګ سبب انګیزه یا Motivation ده. ای. ام. فورسټر په خپل کتاب ( د ناول اړخونه) کې

کرکټر دوه ډوله معرفي کوي:

- ساده یا ثابت کرکټر Flat Character چې پیچلی نه وي، جزیاتو سره کار نه لري او تغیر نه کوي.
- متغیر کرکټر Round character چې پیچلی دی جزیاتو سره کار لري او د ژوند یو واقعي کرکټر وي.

۸- زمینه setting: د اوضاع او حالاتو انځورول چې د داستان لوستونکی د داستان له کرکټرونو او اتلانو سره بلدتیا پیداکوي او زمینه د لیکوال له توصیف څخه رامنځ ته کیږي. لیکوال باید تاریخي،

جغرافيايي او ټولنيز معلومات ولري، ځکه چې اکثره ليکوالان د سيمې له اتل او کرکټر څخه تاريخي، جغرافيايي او د ده له ټولنيز ماحول څخه دقيق معلومات نه لري.

۹- فضا: Atmosphere: د داستان ذهني فضا چې ليکوال يې رامنځ ته کوي. مثال: په سينما کې ډيکوريشن او د رڼا تنظيم او په داستان کې عبارتونه او توصيفونه فضا رامنځ ته کوي. د زميني خلاف داخلي او ذهني اړخ لري او له زميني يا سټينګ څخه قوي، حساسه او اغېزمنه ده. فضا ممکن د خوښۍ وي او يا هم ممکن د غم فضا وي.

۱۰- لحن: Tone: د فضا رامنځ ته کول دي، د کرکټر پخپله ژبه بيان او پيژندنې ته وايي، سبک ته نژدې ده. کرکټرونه د دوی له لحن او خبرو څخه پيژنو او ورسره اړيکه پيداکوو. د موضوع اړوند د ليکوال ليدلوری دی. لحن ممکن رسمي، غير رسمي، صميمي، مؤدبانه، جدي، طنزي ... وي او د داستان اغېز سره اړيکه لري.

۱۱- الګو: Pattern: د داستان منطق رامنځ ته کوي لکه د پلاټ غوندې د پېښو منطقي تړون رامنځ ته کوي او کرکټرونه سره اړوند يا مربوط کوي( م. ۱۷۶).

**۴. مناقشه**

د اوسنۍ کيسې د جوړښتي عناصرو څېړنه ښيي چې داستان يوازې د پېښو ساده ترتيب نه دی، بلکې يو منظم هنري نظام دی چې د بېلابېلو عناصرو پر متقابل تعامل ولاړ وي. د ادبي نظريه‌پردازانو لکه مير صادقي، يونسي او شميسا نظريات څرګندوي چې پلاټ، کرکټر، درونمايه او د ليد زاويه د داستان اساسي ستنې جوړوي او د همدې عناصرو ترمنځ منطقي اړيکه د داستان اغېزمنتيا تضمينوي. که په داستان کې دا عناصر په سمه توګه سره همغږي نه وي، داستان خپل هنري ارزښت او پر لوستونکي خپل اغېز له لاسه ورکوي.

له بلې خوا، معاصر ادبي نقد د داستان جوړښتي اړخونو ته تر پخوا ډېره پاملرنه کوي او کيسه يوازې د ټولنيزو واقعيتونو انعکاس نه ګڼي، بلکې د يو تخنيکي او هنري جوړښت په توګه ورته ګوري. دا ليدلوری ښيي چې د داستان مانا يوازې په موضوع پورې تړلې نه ده، بلکې د هغې د وړاندې کولو په طريقې، ژبه، سبک او روايت پورې هم اړه لري. د مثال په توګه، د مناسبې ژبې کارونه، اغېزمن ډيالوګونه او د ليد زاويې دقيق انتخاب کولای شي د داستان هنري ارزښت څو برابره زيات کړي.

همدارنګه، څېړنه څرګندوي چې د لنډې کيسې او ناول ترمنځ توپير يوازې په حجم کې نه دی، بلکې په جوړښت، تمرکز او د پېښو په تنظيم کې هم توپير لري. لنډه کيسه معمولاً پر يوه مرکزي پېښه او محدودو کرکټرونو تمرکز کوي او هڅه کوي چې يو واحد اغېز رامنځته کړي، په داسې حال کې چې ناول پراخ جوړښت او ډېر شخصيتونه لري. له همدې امله، ليکوال بايد د داستان د ډول له مخې خپل هنري عناصر په مناسبه توګه تنظيم کړي.

په ټوله کې، دا مناقشه څرګندوي چې د داستان برياليتوب د جوړښتي عناصرو پر علمي درک او هنري کارونې پورې تړلی دی. هر څومره چې ليکوال د داستان د جوړښت اصول په ښه توګه وپېژني او په

تخلیقي ډول یې وکاروي، هومره به داستان اغېزمن، منظم او هنري ارزښت لرونکی وي.

**۵. پایله**

د اوسنی کیسې او داستان د جوړښتي عناصرو له تحلیلي او علمي څېړنې څخه دا څرګندېږي چې داستان یو منظم، هدفمند او هنري جوړښت دی چې بریالیتوب یې د بېلابېلو عناصرو پر متوازن او منطقي کارونې پورې تړلی وي. پلاټ یا طرحه د داستان د ملا تیر حیثیت لري، ځکه چې د پېښو ترمنځ تسلسل، تلوسه، بحران او پایله تنظیموي او داستان ته انسجام وربخښي. کرکټر یا شخصیت د داستان د ژوندۍ څېرې په توګه د داستان اصلي محرک ګڼل کېږي او د کرکټر د دقیقې شخصیتپردازۍ له لارې لیکوال کولای شي لوستونکی له داستان سره عاطفي او فکري اړیکې ته وهڅوي.

همدارنګه، درونمایه یا مضمون د داستان فکري محور جوړوي او د داستان عمومي پیغام او معنا تنظیموي، په داسې حال کې چې صحنه (وخت او ځای) داستان ته واقعیت او اعتبار وربخښي. د لید زاویه د روایت د وړاندې کولو بنسټیز عنصر دی، ځکه چې د همدې زاویې له لارې لوستونکی د داستان له پېښو او شخصیتونو سره اشنا کېږي او د داستان درک تر لاسه کوي. ژبه او سبک هم د کیسې له مهمو هنري عناصرو څخه دي چې د لنډې کیسې د اغېزمنتیا، ښکلا او هنریت سبب ګرځي، او تخلیقي، انځوریزه او مناسبه ژبه کولای شي کیسې ته ژوروالی او اغېز ورکړي.

د دې څېړنې پایلې ښیي چې د لنډې کیسې بریالیتوب یوازې د یوې پېښې یا یوې مفکورې پورې محدود نه دی، بلکې دا د ټولو جوړښتي عناصرو د متقابل تعامل، هنري توازن او هدفمندې کارونې محصول دی. هر څومره چې لیکوال وکولای شي دا عناصر په منظم، همغږي او هنري ډول سره یو ځای کړي، هومره به داستان اغېزمن، د باور وړ او هنري ارزښت لرونکی وي. پر همدې اساس، د لنډې کیسې د جوړښتي عناصرو علمي پېژندنه او سمه کارونه د کیسه لیکنې د کیفیت د لوړولو لپاره یو اساسي شرط ګڼل کېږي.

په پای کې ویلای شو چې اوسنۍ کیسه یوازې د پېښو ساده بیان نه دی، بلکې یو هنري، فکري او تخلیقي نظام دی چې د انساني تجربو، ټولنیزو واقعیتونو او رواني حالتونو انعکاس په منظم او اغېزمن ډول وړاندې کوي. د دغو عناصرو پر علمي درک او سمې کارونې سره لیکوال کولای شي داسې داستانونه رامنځته کړي چې هم هنري ارزښت ولري او هم د لوستونکو پر فکر او احساس ژور اغېز وکړي.

**٦. مأخذونه**

احمدي، نصیر احمد. (۱۳۹۳). *راځئ کیسه ولیکو*. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۸). *ادب تیوري*. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

اعظم، محمد اعظم. (۱۹۷٦). *پښتو افسانه تحقیق او تنقید*. پېښور: عظیم پبلشنګ هاؤس.

انځور، محمد زرین. (۲۰۱۴). *پښتو معاصر داستاني ادبیات (تاریخي ـ انتقادي کتنه)*. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

خلیل، حنیف. (۲۰۱۱). *نوی نثر او افسانوي ادب (فکشن)*. پېښور: یونیورستي پبلشر.
سمون، محمد هارون. (۱۳۹۷). *د داستان ډیالکتیک*. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.
سندیلوي، سلام. (۱۹۸۹). *ادب کا تنقیدي مطالعه*. لاهور: مری لایبریري.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸۷). *انواع ادبي*. تهران: تابش.
شینواری، دوست محمد. (۲۰۱۴). *د ادب تیوری اساسونه*. جلال اباد: یار خپرندویه ټولنه.
عباس، ناصر. (۱۳۹۸). د کیسې تیوري: نوي او زاړه لید لوري (ژباړن: اجمل ښکلی). تاند وېبپاڼه.
غضنفر، اسدالله، منلی، نجیب. (۱۳۹۹). *د ادبیاتو دنیا*. کابل: نامعلوم خپرندوی.
میر صادقي، جمال. (۱۳۹۴). *ادبیات داستاني*. تهران: نشر سخن.
میر صادقي، جمال. (۱۳۹۴). *عناصر داستان*. تهران: نشر سخن.
نسیم، عارف، او شاهین، سلمی. (۲۰۰۷). *ادبي تنقید*. پېښور: پښتو اکاډمي.
یونسی، ابراهیم. (۱۳۸۲). *هنر داستان نویسی*، اووم چاپ. تهران: انتشارات تهران.

Abrams, M. H., & Harpham, G. G. (2015). *A glossary of literary terms* (11th Ed.). Cengage Learning.
Aristotle. (1996). *Poetics* (M. Heath, Trans.). Penguin Classics. (Original work published ca. 335 BCE)
Forster, E. M. (1927). *Aspects of the novel*. Edward Arnold.
Poe, E. A. (2004). *The philosophy of composition*. In *Essays and reviews*. Library of America.